
د ښځو د سولې لنډیز – د ۲۰۲۰ کال د آګست میاشت

د تاوتریخوالي د کموالي په اړه د افغان ښځو نظرونه

لنډیز:

- **۵۳۹ ښځو چې عمرونه یې له ۱۸ څخه تر ۳۵ کلونو پورې وو له هرات، بلخ او ننګرهارولایتونو څخه د تاوتریخوالي د کموالي په اړه د ۲۰۲۰ کال د آګسټ میاشتې د ښځو د سولې لنډیز په یوه نظر غوښتنه کې ګډون وکړ.**
- **٪۵۰،۰۹ ځواب ویونکو له دې څخه خبر نه درلود چې طالبان د بین الافغاني خبرو له پیل څخه د مخه د تاوتریخوالي کموالي ته ژمن نه وو.**
- **٪۸۰،۳۳ ګډونوال په دې باور وو چې که طالبان د تاوتریخوالي کموالي سره مو افقت ونه لري، تلپاتې سوله نشي ترلاسه کېدای.**
- **٪۵۸،۰۷ ګډونوالو وویل چې په خپلو ټولنو کې یې د تاوتریخوالي کموالی ندی تجربه کړی.**
- **کله چې ترې وپوښتل شول چې د دې بهیر کوم اړخونه ورته ناخرګند وو، ٪۲۹،۴۹ وویل چې "ترسره شوې مو افقه"، ٪۲۴،۴۸ وویل چې "په سیمه ییزه کچه پایلې" او ٪۱۹،۴۸ وویل چې د ښکېلو کسانو په اړه وضاحت یې نه وو ترلاسه کړي. دا ترټولو زیات ورکړل شوي ځوابونه وو.**

شالید او د سروې پوښتنې: په آګسټ میاشت کې، د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو ترمنځ د زندانیانو د تبادلې په پام کې نیولو سره، د تاوتریخوالي کموالی د بحثونو یوه مهمه برخه وه. په عموم کې د ښځو وینا دا وه چې هغوی تیار دي چې سوله ومني خو نه په هره بیه. ښځو د شخړې له سیاسي حل څخه خپل ملاتړ وښود او د ټولو لوریو لخوا د تاوتریخوالي په کموالي یې د یو داسې اقدام په توګه چې کولای شي بین الافغاني خبرو اترو ته د رسېدو په بهیر کې د خلکو د اړو ترلاسه کړي، ټینګار وکړ. خو کله چې طالبانو د تاوتریخوالي کموالي باندې ژمنه ونه کړه او وې وویل چې کله چې بین الافغاني خبرې پیل شوې، دا کېدای شي د اجنډا یوه برخه وي چې پرې خبرې وشي، اندېښنې راوپارېدلې.



له ولایتونو څخه نظرونه: له درېو ولایتونو څخه چې پکې نظر غوښتنه وشوه، اتو ښځو د تاوتریخوالي د کموالي په اړه خپل نظرونه شریک کړل

ریحانه، ۲۶ کلنه، له بلخ ولایت څخه وایي: "د تېرو پنځو میاشتو په اوږدو کې، زمونږ په سیمه کې د تاوتریخوالي کچه، له بده مرغه ډېره لوړه شوې ده. له یوې خوا، وینو چې د سولې خبرې اترې رواني دي. او له بلې خوا، په ولسوالیانو کې سوله شتون نلري؛ خلک وژل کېږي او کورونه پې ورانېږي. په ټول بلخ ولایت کې همدا روان دي. ډېرو زیاتو امنیتي ځواکونو خپل ژوندونه وبایلل. هره ورځ د تاوتریخوالي شاهدان یو او دا وضعیت له رواني پلوه په مورږ باندې ډېره بده اغېزه کوي په ځانګړې توګه پر ځوانانو او عامو خلکو باندې."

زهرا، ۲۳ کلنه، له بلخ ولایت څخه وایي: "په تېرو پنځو میاشتو کې، چېرته چې مورږ ژوند کوو او زمونږ په شاوخوا سیمو کې مو په تاوتریخوالي کې کوم کموالی ندی لیدلی بلکې زیاتوالی پکې رامنځته شوی دی. مورږ په مزار شریف کې اوسېږو خو په نورو ولسوالیو کې جګړې روانه ده، نو د تاوتریخوالي په کچه کې کوم کموالی ندی رامنځته شوی. برعکس، زیاتوالی پکې رامنځته شوی دی. او دا پر ښځو باندې اغېزه کوي، تاسو پوهېږئ چې کله چې تاوتریخوالي زیاتېږي، د ښځو قیودات زیاتېږي. او نن، مورږ نشو کولای لکه څرنګه چې مخکې په آسانۍ سره وتلو او دندو ته تللو، لاړ شو."

پروانه، ۴۶ کلنه، له هرات ولایت څخه وایي: "په تېرو پنځو میاشتو کې په تاوتریخوالي کې کوم کموالی ندی رامنځته شوی. بر عکس، د تاوتریخوالي کچه زر برابره لوړه شوې ده. په هرات کې د تاوتریخوالي کچه اوس مهال ډېره زیاته اوچته ده او د دې تر شا عوامل: طالبان، اختطاف، فلا او داسې نور دي. لنډه دا چې د تاوتریخوالي کچه ورځ په ورځ د لوړېدو په حال کې ده."

مونا، ۳۳ کلنه، له هرات ولایت څخه داسې وایي: "په کومه سیمه کې چې زه اوسېږم، له کوم ډول تاوتریخوالي سره نه یم مخ شوې، خو دا نشم وویلای چې په تاوتریخوالي کې کموالی رامنځته شوی. بر عکس، د تاوتریخوالي په کچه کې زیاتوالی رامنځته شوی دی. او د تاوتریخوالي کچه د کووډ ۱۹ له املې لوړه شوې ده. په دې وروستیو کې، ډېرې دفترونه او بازارونه تړل شوي او اقتصادی ته زیان رسېدلی دی. له دې املې، ډېرې کورنۍ اوس له اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي. او اقتصادي ستونزې له فقر، رواني صدمې او رواني ستونزو سره یو ځای، د تاوتریخوالي د زیاتېدو اصلي لاملونه دي."

محدثه، ۲۲ کلنه، له هرات ولایت څخه داسې وایي: "په دې وروستیو کې، د خدای په فضل، د تاوتریخوالي په کچه کې کوم زیاتوالی ندی رامنځته شوی. په ټوله کې، د ښځو وضعیت زمونږ په ټولنه کې د ښه کېدو په حال کې دی. اوس، د تېروخت په پرتله لا زیاتې ښځې په بیلابیلو برخو کې په دندو بوختې دي او دا په ټولنه باندې ډېره مهمه او ښه اغېزه لري."

ثریا، ۲۲ کلنه، له ننګرهار ولایت څخه داسې وایي: "په تېرو کلونو کې او په تېرو پنځو میاشتو کې، د زده کړې او کار په برخه کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په کچه کې کموالی رامنځته شوی دی. د خدای شکر دی، په کم عمر ودونو کې هم کموالی راغلی. خو له بده مرغه، په امنیتي برخه کې، مورږ په خپله سیمه کې د تاوتریخوالي په کچه کې کوم مثبت بدلون ندی لیدلی."

نسیمه، ۴۹ کلنه، له ننګرهار ولایت څخه داسې وایي: "په کومه سیمه کې چې زه اوسېږم، هوا! د تاوتریخوالي په کچه کې کموالی رامنځته شوی. اوس مهال، لا زیاتې ښځې زده کړو ته لاسرسی لري او د پوهاوي کچه هم لوړه شوې ده. ځینې ښځې له اقتصادي پلوه خپلواکې شوې دي. خو په ټولنه او سیاست کې، ډېر پرمختګ ندی رامنځته شوی."

بسمینه، ۱۹ کلنه، له ننګرهار ولایت څخه داسې وایي: "په ښارونو او کلیو کې د تاوتریخوالي تر منځ توپیر شته. زه په یوه نسبتاً پرمختللې ټولنه کې اوسېږم، نو ما په سیمه کې د ښځو د وضعیت په ټراو د ښځو په ذهنیت کې ډېر بدلون لیدلی دی او همدارنګه د تاوتریخوالي په کچه کې کموالی احساسوم. په ښوونځیو کې د ښځینه زده کوونکو شمېر زیات شوی دی. او په ټېرو څو میاشتو کې، ما د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي کوم څه ندي اوربدلي."

میتودولوژي: د "واوره" د سروې پوښتنې هغو بحثونو ته په کتو سره جوړېږي چې د خبرو اترو پر مهال ترسره کېږي. څېړونکي هره میاشت، د Likert میتودولوژیکي تکلارې په کارولو سره څلور ټرلې پوښتنې (Close-ended) او یوه خلاصه پوښتنه (Open-ended) چې سروې کوونکي یې (د ګډونوالو د موافقې له ترلاسه کولو وروسته) په خپلو تلیفوني سروې ګانو کې کاروي او د سولې تسهیلوونکي یې په ولایتونو کې د مخامخ سروې ګانو لپاره کاروي. وروسته له هغې، د ټلفوني سروې ګانو او مخامخ سروې ګانو موندنې راغونډېږي او کلیدي موندنې ریې راټولیږي تر څو په متمرکزو ډله ییزو بحثونو کې، چې تر دې وروسته د ټولنې له ښځینه مشرانو (د "واوره" ، د ښځو د سولې د کړیو غړو) سره ترسره کېږي، په پام کې ونیول شي. "واوره" ، د راټولو شوو غږونو د مثلث له لارې ډاډ ترلاسه کوي چې خپلې موندنې د بیلابیلو میتودولوژیکي تکلارو په آزمایلو سره چک کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه موندنې شته حقایق منعکس کړي. وروسته له دې دغه موندنې د ښځو د سولې په یو لنډیز کې راغونډېږي چې "واوره" یې نه یوازې د خبرواترو لوړیو او د سولې په بهیر کې ښکېلو مرستندویانو ته، بلکې بېرته یې (د تایید د کړۍ له لارې – feedback loop) سروې شوو ځواب ویونکو ته هم لېږي تر څو هغوی د هېواد په کوټ کوټ کې د ښځو له نظرونو څخه خبر شي.

د "واوره" په اړه: "واوره" یو نوښت دی چې د افغانې ټولنې له بیلابیلو برخو څخه د سولې روانو خبرواترو پورې اړوندو مسائلو په اړه د ښځو نظرونه راټولوي او دغه نظرونه د خبرواترو له مېز، د سولې په بهیر کې له ښکېلو مرستندویانو، د مدني ټولنې بنسټونو او عامو خلکو سره شریکوي. پر دې سربېره، "واوره" په لومړۍ ردې - Track I کې له شته ښځو سره د خپلو موندنو په شریکولو سره هغه ته دا ورتیا ورکوي چې د ولس په منځ کې د ښځو اوچت شوي غږونه خبرو اترو ډلو ته ورسوي. د بدیل په توګه، د "واوره" یو مهم فعالیت دا دی چې د خپلې سروې موندنې د پیغامونو د ټکنالوژۍ – SMS له لارې بېرته له هغو کسانو سره شریکې کړي چې سروې یې شوې ده، او پدې توګه په دې بهیر کې له هغوی سره د ذینفعانو /شریکانو په شان چلند کوي.